د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د ارزګان ولایت پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت

# د ارزګان ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل - حوت کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ


د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 5
د کړنو لنډیز ........ 7
د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او لومړیتوبونو پر بنسټ ........ 10
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 10
1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 10
1.2 مدرسین/ استاد/ښوونکی ........ 10
1.3 نصاب ........ 12
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 12
1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 12
1.6 د ټولنې ګډون ........ 13
1.7 مدیریت ........ 13
برنامه 2: ښوونه او روزنه ........ 14
2.1 زده کووونکی ........ 14
۲.۲ ښوونکی ........ 17
۲.۳ نصاب ........ 19
2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 20
2.5 روزنیز چاپیریال ........ 20
2.6 د ټولنې ګډون ........ 26
2.7 مدیریت ........ 26
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 29
۳.۱ مدیریت ........ 29
برنامه ۴: مالي او اداري ........ 32
4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 32
4.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 32
4.3 نصاب ........ 32
4.4 ښونیزه ارزونه ........ 32
4.5 رونیز چاپیریال ........ 32
4.6 د ټولنې ګډون ........ 34
4.7 مدیریت ........ 34
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........ 36
5.1 طالب العلم/ حافظ/ زده‌کوونکی/ سواد زده کړو زده کړیال ........ 36
5.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 36

5.3 نصاب ........ 36
5.4 ښوونیزه ارزونه ........ 36
5.5 روزنیزه ارزونه ........ 36
5.6 د ټولنې ګډون ........ 36
5.7 مدیریت ........ 36
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 37
د پایلې او شننې لنډ جدول ........ 38
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 41
مالي رپوټ تحلیل ........ 42
ملپاڼې ........ 44

# د ۱۴۰۴ مالی کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او تخلص | وظیفه | ایمیل ادرس | شماره مبایل/واتساپ | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| مولوي عصمت الله (عاصم) | دښووني او روزني آمر | 0 | ۰۷۰۱۵۰۵۲۶۱ | |
| مولوي مصطفی (ذاکري) | منابع اداري آمر | Mustafa zakiri 700@gmail.com | ۰۷۰۸۴۹۶۹۶۶ | |
| مولوي رحمت الله (رحمتي) | کیفیت دتضمین آمر | Rahmatullah rhmati46@gmail.com | ۰۷۰۰۰۲۹۱۷۳ | |
| مولوي مطیع الله (ابوالحسن) | داسلامي زده کړو آمر | Abulhasnmateallah@gmail.com | ۰۷۰۷۱۸۲۴۲۱ | |
| عنایت الله (ایمل) | دراپورنودتحلیل اوتوحید مسلکي غړي | Enayatullae 039.@gmail.com | ۰۷۶۶۵۰۹۸۳۴ | |

تائیدی رئیس معارف:

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل ادرس | شماره مبایل/واتساپ | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي شمس الله آخندزاده (کامران) | دپوهنې رئیس | Alhaj maulvi.shamsullah.akhund.zada @gmail.com | ۰۷۷۷۷۵۱۱۲۶ | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات

ارزګان ولایت د افغانستان له مرکزي ولایتونو څخه دی، چې اداري مرکز يې ترينکوټ ښار دی. د مرکزي احصائيې د معلوماتو له مخې، د دې ولايت ټول نفوس 4،76،659 تنه ته رسېږي، چې له دې جملې څخه 2،39،299 تنه نارينه او 2،28،360 تنه ښځينه وګړي دي.

نوموړی ولایت د مرکز په ګډون اووه (۷) اداري واحدونه لري، چې عبارت دي له: ترينکوټ (مرکز)، خاص ارزګان، دهراود، ګيزاب، چوره، چهارچېنه او چنارتو ولسواليو څخه.

د ښوونې او روزنې په برخه کې، د تشکيل د کمښت او اداري ستونزو له امله ټولو وګړو ته د زده کړو بشپړ لاسرسی نه دی تأمين شوی، چې دې موضوع د ښوونيز نظام پر کيفيت منفي اغېزه کړې ده.

په ياد ولايت کې د سواد کچه شاوخوا ۴۵ سلنه ده، چې له دې جملې څخه 17،668 تنه په ښاري سيمو او 4،49،991 تنه په کليوالي سيمو کې ژوند کوي.

د لوړو زده کړو له پلوه، په دې ولايت کې يو دولتي پوهنتون فعاليت لري، چې د زراعت، تعليم او تربيې، کمپيوټر ساينس او شرعياتو پوهنځي پکې شامل دي. سربېره پر دې، يو خصوصي انستيټيوټ هم شتون لري، چې د فارمسي، نرسنګ او لابراتوار په څانګو کې ځوانانو ته تحصيلي خدمات وړاندې کوي.

ښوونې او روزنې پروګرام اړوند ښوونيز مرکزونه: د عمومي زده کړو پروګرام اړوند ټولټال ۱۹۷باب‌ه ښوونځي لري، چې لدې جملې څخه ۴۲ بابه ليسې۴۲ بابـــه منځنۍ او ۱۱۳ لومړني ښوونځي دي.

په پورته ټولو ښوونځيو کې د عمومي زده کړو په برخه کې۸۵۲۶۸ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې ۶۳۴۹۴ تنه نارينه او ۲۱۷۷۴ تنه ښځينه دي.

په ۱۴۰۴ کال کې په ټولو ښوونځيو کې ټولټال ۷۶۴۱ تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې د يادو ارقامو له جملې څخه ۵۹۰۹ تنه نارينه او ۱۷۷۵ تنه ښځينه زده کوونکي دي.

د اسلامي زده کړو پروګرام اړوند ښوونيز مرکزونه: د اسلامي زده کړو د برنامې د مرکزونو شمېر٦۳٦ بابه کيږي، چې لدې جملې څخه ٦۳۵ بابه مدرسې، ۱ باب دارالعلوم اوپه ۴۵ بابه مدرسو کې ۱۱۴ د دارالحفاظونوڅانګې شتون لري .په پورته ديني مرکزونو کې ټولټال ٦٦۸۷۲ تنه طالب العلمان په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه 52،840 تنه نارينه او 14،032 تنه ښځينه طالب العلمان دي. همدارنګه پورته طالب العلمانو ته د 2،244 تنو نارينه مدرسينو لخوا تدريس کيږي.

دسواد زده کړې پروګرام اړوند ښوونيز مرکزونه:

د ياد ولايت په کچه ټولټال ۵۰ بابه د سواد زده کړې رسمي فعال کورسونه شتون لري، چې په دغو کورسونو کې ۱۰۴۱ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې له دې جملې څخه ۹۵۱ تنه نارينه او ۹۰ تنه ښځينه دي. همدارنګه، يادو زده کوونکو ته د ۲۸ تنو استادانو له لوري تدريس ترسره کيږي.

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:**

د ارزگان ولایت د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په ۷ برخو زده کوونکي، ښوونکی، نصاب، روزنیز چاپیریال، ښوونیزه ارزونه، ټولنې ګډون او مدیریت څخه جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، درې میاشتني، شپږمیاشتني، نهه میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي، تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوي نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته ښه والي ور وبخښي.

د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام، د عملیاتي پلان د ۱۴۰۴ کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د ۷ برخو په رڼا کې چې پورته ذکر شوی چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې ترپای پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی:

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملیاتو برخه

# د کړنو لنډيز

## ۱. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړيال

- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د خامسې او حفظ فارغانو لپاره د فراغت ۵۶۰ جلده سندونه وېشل شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري د اړوند ولايت د عاليه دورې ۱۸۹ تنه علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوي دي.
- د ولايت په کچه په ټولو مدرسو کې ټولټال 7،684 تنه طالب العلمان نوي جذب شوي دي، چې له دې جملې څخه 5،909 تنه نارينه او 1،775 تنه ښځينه زده کوونکي دي.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د مرکز ترينکوټ، چوره او خاص ارزګان ولسواليو اړوند د ۷۵ بابه ښوونځيو له شوراګانو څخه ملاتړيزه خارنه ترسره شوې ده.
- د سواد زده کړې مديريت اړوند د سواد حياتي په ښوونځيو کې ټولټال ۲۲۴ تنه زده کوونکي جذب شوي دي.
- د اساسي او ثانوی مديريت له لوري په مرکز ترينکوټ کې ۲۱۰ تنه کوچيان ښوونځيو کې جذب شوي دي.
- د سواد زده کړې په ښوونځيو کې ټولټال ۱۱۴۹ تنه زده کوونکي د ولايت په کچه جذب شوي دي.
- د روغتيا مديريت له لوري د دې ولايت په کچه ۴۱۰۶ د حفظ الصحې او نظافت کيټونه د عامه پوهاوي په موخه ويشل شوي دي.
- د اساسي او ثانوي مديريت له لوري ۱۵ تنه يتيم، بې وزله، د شهيدانو وارثين او معلول زده کوونکي خصوصي کورسونو ته معرفي شوي دي.
- د روغتيا مديريت له لوري، په چوره، ګيزاب او چهارچينو ولسواليو کې د ښوونځيو زده‌کوونکو لپاره د البنډازول ټولټال 33،378 ګولۍ ويشل شوې دي.

## 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د اسلامي زده کړو آمريت اړوند مسلکي پراختيا علمي غړو لخوا د مرکز ترينکوټ په کچه د ۸۱ تنه استادانو ارزونه ترسره شوې ده.
- د مرکزي ساينس مديريت ٦ تنو علمي غړو ته د مرکز له لوري ۱۲ ورځنی ښوونيز ورکشاپ ورکړل شوی دی.
- د ساينس مديريت علمي غړو له لوري، ټولټال ۸۰ تنو ښوونکو ته د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر ښوونکو او لابرانتونو ته روزنيز ورکشاپ داير شوی دی.
- د دې ولايت په کچه ټولټال ۲۳ تنه علمي غړي استخدام شوي دي.
- د ولايت په کچه ټولټال ۲۷٦ تنه نوي مقرر شويو ښوونکو ته د ظرفيت لوړونې پروګرامونه داير شوي دي.

## 3. نصاب

- د مرکز ترينکوټ او ټولو ولسواليو د پوهنې آمريتونو ته د ونډې سره سم 13،902 ټوکه ديني کتابونه وېشل شوي دي.
- د خپرونو مديريت له لوري د عمومي زده کړو لپاره 30،999 ټوکه درسي کتابونه د سهم سره سم مرکز ترينکوټ او ټولو ولسواليو ته ويشل شوي دي.
- د پوهنې رياست د شته ګدام څخه 1،035 جلد کتابونه د مرکز ترينکوټ آمريت اړوند ښوونځيو ته ويشل شوي دي.

## 5. روزنيز چاپېريال

- د مرکزساينس مديريت له لوري په چورې ولسوالۍ کې يو لابراتوار ايجاد شوی دی.

- د مرکز ساینس مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې دښورنګ متوسطه ښوونځې او تالانې متوسطه ښوونځیو کې لابراتوارونه تجهیز شوي دي.
- د مسلکي پراختیا علمي غږو له لوري د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ټولټال ۱۰۷ ټولګي چې ښوونکي یې نه لرل پیژندل شوي دي.
- د اساسي او ثانوي مدیریت له لوري د ټول ولایت په کچه ۱۱۷ بابه ښوونځي چې په خلاصه فضا کې شتون درلود، پیژندل شوي دي.
- د دې ولایت په کچه ټولټال ۱۰ بابه ښوونځي پیژندل شوي دي چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري.
- د رسمي ښوونکو له لوري د مرکز ترینکوټ او ولسوالیو په کچه د سواد زده کړې ټولټال ۵۰ بابه کورسونه ایجاد شوي دي.
- د مالي او اداري آمریت اړوند املاکو مدیریت له لوري، د ۲۷ بابه ښوونځیو د ترمیماتي پروژو له تطبیق او بشپړولو څخه مقطعي څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولایت په کچه ټولټال ۱۳ بابه ښوونځیو ودانۍ د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ جوړېږي.
- د مالي او اداري آمریت اړوند خدماتو مدیریت له لوري د پوهنې ریاست اړوند ۸۰ پایې اداري څوکۍ او میزونه ترمیم شوي دي.

### 6. د ټولنې ګډون

- د سواده زده کړې برنامې د ښه تطبیق په موخه ۱۰٦ کمېټې د مرکز او ولسوالیو په کچه جوړې شوي دي.
- د سواد زده کړې مدیریت له لوري د مرکز او ولسوالیو په کچه د سواد زده کړې ۷ تنه زده کوونکي په مادي او معنوي ډول هڅول شوي دي.
- په چورې ولسوالۍ کې دعام ولس له لوري د ښوونځیو او مدرسود جوړولو لپاره ۱۵جریبه ځمکه وقف و ورکړل شوې ده.

### 7. مدیریت

- د مسلکي پراختیا علمي غږو له لوري په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې له ۱ باب حیاتي سواد ښوونځیو او ۴۸ بابه د سواد زده کړې له کورسونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غږو له لوري په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د ۱۳۹ بابه ښوونځیو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غږو له لوري د مرکزترینکوټ په ګډون په ټولو ولسوالیوکې د۱۱۸۰ تنه سرښوونکو او مدیرانو د کاري کړنو له بهیر څخه لیدنه ترسره شوې ده.
- د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري په انفرادي ډول د دولتي ښوونځیو لپاره ٦۳قطعې شهادت پاڼې (بري لیکونه) ترتیب او وېشل شوي دي.
- **د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لوري په ګروپي ډول د دولتي ښوونځیو لپاره ۵۹۷ قطعې شهادت نامې ترتیب او وېشل شوي دې.**
- د نشراتو اوعامه اړیکو ریاست له لوري، ۴۲۰ ټوکه د عرفان مجلې، ۴٦۰ ټوکه د ولوله او فکر وکړه مجلې او ٦۳۰ ټوکه د پوهنې اونیزې مجلې ترلاسه شوي او اړونده څانګو ته وېشل شوي دي.
- د کارکوونکو چارو مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې ۴۳ نویو ګمارل شوو کارکوونکو ته د دندو د لایحې، قوانینو او مقرراتو او کاري پلان د چمتو کولو په موخه لارښودیز سیمینار دایر شوی دی.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو کمبود.
- د سواد زده کړې لپاره د کورسونو نه موجودیت.
- د نویو مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره د زده کړیز پروګرامونو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجې نشتون.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبود.

## حل لارې او وړاندیزونه

- د عمومي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د درسي کتابونو رالیږل.
- د سواد زده کړې لپاره د سواد زده کړې کورسونو جوړول .
- د نوي مقرر شویو ښوونکو او کارکوونکو لپاره زده کړیز ورکشاپونه جوړول او بودیجې ورکول.
- د ترمیماتي پروژو لپاره د بودیجي رالیږل.
- د ښوونکو او د علمي غړو کمبودات پوره کول.

# برنامه 1: اسلامي زده کړې

## 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

۱.۱ فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د یاد ولایت په کچه ۱ رسمي دارالحفاظ په مرکز ترینکوټ کې موقعیت لري، چې یاد دارالحفاظ کې ۱۱۳ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، همدارنګه د دې ولایت په کچه په ټولو مدرسو کې ۱۰۰۳۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۷۳۲۴ تنه نارینه او ۲۸۱۹ تنه ښځینه طالب العلمان دي.

۱.۲ فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ترینکوټ په مرکزي دارالعلوم کې ټولټال ۹۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه لومړي ټولګي ته ۲۰تنه، د ۱-۳ ټولګي ته ۳۵ تنه، ۴-۶ ټولګي ته ۱۱ تنه، ۷-۹ ټولګي ته ۲۴ تنه، ۱۰-۱۱ ټولګي ته ۲۰ تنه طالب العلمان نوي شامل شوي دي.

۱.۳ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په لیلیو کې جذب شوي طُلاب

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په ټولو ولسوالیو کې ۳۵۰ تنه طالب العلمانو ته د لیلیې ترتیب برابر شوی دی، چې په مرکز او هره ولسوالۍ کې ۵۰ تنه طالب العلمان کیږي.

### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

۱.۱ فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازموینې اخیستنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د دې ولایت په کچه د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه کلنۍ ازموینه په مشترک ډول اخیستل شوې ده.

۱.۲ فعالیت: د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسنادو وېش

د ۱۴۰۴ کال د دریمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ او ( چوره، خاص ارزګان، دهراود، چهارچینو، ګیزاب او چنارتو) ولسوالیو کې د خامسې او حفظ فارغانو لپاره ۵۶۰ جلده د فراغت اسنادونه وېشل شوي دي.

### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

۱.۱ فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د دې ولایت په کچه ۱۸۹ تنه د عالیه دورې علمای کرامو ته شهادتنامې چاپ او وېشل شوي دي.

## 1.2 مدرسین / استاد/ښوونکی

### ۱.۲.۱ لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند مسلکي پراختيا علمي غړو لخوا ددې ولايت پوهنې رياست، ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د رشتې خلاف د لارښود د تطبيق په اړه مدرسينو ته لارښوونې شوي دي.

۱.۲ فعاليت: د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې امريتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند مسلکي پراختيا علمي غړو لخوا د دې ولايت پوهنې رياست، ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه او د دارالعلومونو په کچه ۱۰۰ سلنه د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل لارښود د تطبيق په اړه لارښوونې شوي دي.

### ۱.۲.۲ لومړيتوب: د صنفي اصولو/ لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکي د توظيفولو په موخه د اړينو تدبيرونو نيول

۱.۱ فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې امريتونو او د مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د مرکز ترينکوټ او ټولو ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د لارښود د تطبيق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.۱ فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې امريتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند مسلکي پراختيا علمي غړو لخوا د دې ولايت پوهنې رياست، ولسواليو د پوهنې آمريتونو په کچه۱۰۰ سلنه او د دارالعلومونو او مدرسو په کچه ۱۰۰ سلنه د لارښود د تطبيق په اړه لارښوونې شوي دي.

### ۱.۲.۳ لومړيتوب: په تعليمي مرکزونو کې د خالي پوستونو لپاره د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو پر وخت گمارنه

۱.۱ فعاليت: د طرزالعمل سره سم په مرکزي او ولايتي کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي ښوونکو څخه ازموينې اخيستل،

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعاليت د تشکيل د کمبود له امله نه دی ترسره شوی.

### ۱.۲.۴ لومړيتوب: د علمي کادر اجراء کول

۱.۱ فعاليت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول،

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعاليت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د دارالعلومونو استادانو د علمي کادر شرایط ندي پوره کړي چې کادر ورته اجراء شي.

### ۱.۲.۵ لومړيتوب: د نصاب د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې ارزونې د اوسط پايلو د څېړلو لپاره د پلاوي ليږل

۱.۱ فعاليت: د درسي پروگرامونو د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې د اوسط ارزونې پايلو څېړل

د ۱۴۰۴ کال د دريمې ربعې تر پای پورې، یاد فعاليت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له وزارت څخه ټيم نه دی راغلی ترڅو د درسي پروگرامونو د پلي کولو او د طالب العلمانو د زده کړې د اوسط ارزونې پايلو څېړنه ترسره کړي.

### ۱.۲.٦ لومړيتوب: د اسلامي زده‌کړو په مرکزونوکې د مدرسينو او استادانو د ارزونې څېړنه

۱.۱ فعاليت: د ولايتونو او ولسواليو د مدرسينو د مسلکي پراختيا د غړو له لوري د مدرسينو او استادانو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د مسلکي پراختيا علمي غړو لخوا په مرکز ترينکوټ کې ۸۱ تنه استادانو ارزونه ترسره شوې ده.

### ۱.۲.۷ لومړیتوب: له ولایتونو څخه د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

**۱.۱فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د کلني کړنو تشریحي راپور ترتیب او د وروستۍ کړنو په موخه مرکز ته استول شوی دی.**

## 1.3 نصاب

### ۱.۳.۱ لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالۍ په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

**۱.۱فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د ارزګان ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو په اړه لازمې لارښوونې ترسره شوې دي.**

### ۱.۳.۲ لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

**۱.۱فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د خپل سهم په اساس ۱۳۹۰۲ ټوکه دیني کتابونه وېشل شوي دي.**

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### ۱.۴.۱ لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

**۱.۱فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د خامسه دورې لپاره ۴۷۹ تنه طالب‌العلمان تثبیت شوي، همداراز، د مافوق‌الثانویه دورې لپاره ۴۹ تنه طالب‌العلمانو د سویې تثبیت ترسره شوی دی.**

### ۱.۴.۲ لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

**۱.۱فعالیت: د ثانویه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د ( ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ۴۲۲ تنو طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل شوې ده.**

**۲.۱فعالیت: د فوق ثانویه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري د ( سادسه او سابعه) درجو ۲۹۵ تنو طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل شوې ده.**

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

### ۱.۵.۱ لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

**۱.۱فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو رامنځته کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې او تشکیل د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

### ۱.۵.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

**۱.۱فعالیت: په ۳۴ ولایتونوکې د لیلیې رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د یاد ولایت په کچه د لیلیې د رامنځته کولو په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته وړاندیزشوی دی، چې تر اوسه د پوهنې وزارت محترم مقام له لوري د لیلیې د رامنځته کولو په موخه کوم هدایت نه دی شوی.

۱.۲فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې او تشکیل د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

۱.۳فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو د ښوونیزو مرکزونو دنوعیت د بدلون په موخه چا مراجعه نه ده کړې.

۱.۴فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د رسمي ښوونیزو مرکزونو د تاسیس د چارو آمریت د ۲۵۴۹ ګڼې او ۲۲/۵/۱۴۴۷ نېټې مکتوب پر بنسټ، د ٦٧ کلیوالي مدرسو نوعیت عمومي مدرسو ته بدل شوی دی.

۱.۵فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل

د ۱۴۰۴ کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې تر اوسه مدرسو دارالعلوم ته د ارتقاء شرایط ندي پوره کړي.

۱.٦فعالیت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند مدرسو څخه دارالعلوم ته د ارتقاء په موخه څېړنه ترسره شوې ده چې د شرایطو د نه پوره کیدو له امله هیڅ یوې مدرسې دارالعلوم ته ارتقاء نه ده کړې.

## 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل.

## 1.7 مدیریت

### ۱.۷.۱ لومړیتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

۱.۱فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د خالي بستونو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۱.۷.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

۱.۱فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې نوي بستونه ندي راکړل شوی چې د مدرسو اړتیاوی پوره شي.

### ۱.۷.۳ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش

۱.۱فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د تشکیل د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

## برنامه 2: ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کووونکی

#### ۲.۱.۱ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی

۲.۱فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او د ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د ۱۴۰۵ ښوونیز کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د مرکز له لوري لارښوونه نه ده ترسره شوې.

۲.۲فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت دبودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوی.

۲.۳فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړوآمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکزترینکوټ، چوره او خاص ارزګان ولسوالیو کې ۷۵ بابه ښوونځیو دشوراګانو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

۲.۴فعالیت: د بېلابېلو کچو په سړو او تودو سیموکې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت لخوا د مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه ۱۰۰ سلنه د عامه پوهاوي پروګرامونه دایر شوي دي.

۲.۵فعالیت: د غړیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري دیاد ولایت په کچه د بروشر او تبلیغاتي موادو له لارې ۵۰ ځلې د عامه پوهاوي پیغامونه خپاره شوي دي.

#### ۲.۱.۲ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

۱.۲فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده‌کوونکو غیرحاضري او د زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري په ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو غیرحاضري د کمولو او زده کړې پرېښودلو په موخه عامه پوهاوی ترسره شوی دی، چې په پایله کې د زده کوونکو په غیر حاضری کې ۲ سلنه کموالی راغلئ.

۲.۲ فعالیت: د لومړنی دورې د جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دیاد ولایت په کچه ټولټال ۷۶۸۴ تنه زده کوونکي نوي جذب شوي دي، چې د هغې جملې څخه یې ۵۹۰۹ تنه نارینه زده کوونکي او۱۷۷۵تنه ښځینه زده کوونکي دي.

۳.۲ فعالیت: په لومړنی، منځنی او لیسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لنډمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت محترم مقام څخه هدایت نه دی شوی.

۲.۴ فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې ۲۱۰تنه کوچیان ښوونځیو کې جذب شوي دي.

۲.۵ فعالبت: په مرکز او ولایتونو کې د همکارو تعلیمي موسستتو لخوا د ښوونځي څخه مخکې د زده کړې په پروګرام کې دجدید الشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په یاد ولایت کې همکار مؤسسې فعالیت نه لري.

۲.٦ فعالیت: له پولې هر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولګي تثبیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په دې برخه کې دپوهنې وزارت څخه کوم هدایت او مکتوب ندی راغلی.

### ۲.۱.۳ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو لویانو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

۲.۱ فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې ټولټال ۱۱۴۹ تنه او همدارنګه د سواد حیاتي په ښوونځیو کې ټولټال ۲۲۴ تنه زده کوونکي موجود دي چې د یادو زده کوونکو نوملړ چمتو شوی دی.

۲.۲ فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند سواد زده کړو مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې ۵ تنه په شرایطو برابر کوچیان جذب شوی دي.

۲.۳ فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت دبودیجی دنشتون له امله ندی ترسره شوی.

۲.۴ فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت اړوند د سواد زده کړې په ښوونځیو کې ټولټال ۱۱۴۹ تنه زده کوونکي جذب شوي دي.

۲.۵ فعالیت: د حیاتي او حرفوي سواد زده کړې په ښوونځیو کې د لویانو لپاره د زده کړې فرصتونه برابرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې مدیریت اړوند حیاتي او حرفوي سواد زده کړې په ښوونځیو کې ټولټال ۲۷۴ تنه زده کوونکي جذب شوي دي.

### ۲.۱.۴ لومړیتوب: د روغتیایي مرکزونو په همکارۍ د جدیدالشمولانو له روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدو، لیدو، د خولې او غاښونو د فضا او ساري ناروغیو له معاینې څخه اطمینان

۲.۱ فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د روغتیا مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې د ۵۲ بابه ښوونځیو ٦۷۸ تنه زده کوونکي معاینه شوي دي، چې په پایله کې د یادو زده کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان حاصل شوی دی.

### ۲.۱.۵ لومړیتوب: د اوبو، روغتیا ساتنې او حفظ الصحې (WASH) سافټویر پروګرام پلي کول، ښوونځیو ته د لومړنیو مرستو کیټونو او روغتیا تبلیغاتي موادو ویش.

۲.۱فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي موادو، د حفظ الصحه او نظافت کیتونو او لومړنیو مرستو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د صحت مدیریت له لوري د دې ولایت په کچه ۴۱۰۶ د حفظ الصحه او نظافت کیټونه د عامه پوهاوي په موخه ویشل شوي دي.

## ۲.۱.٦ لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه‌کولو سراسري کمپاین

۲.۱فعالیت: د ښوونځیو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د روغتیا مدیریت له لوري، په چوره، گیزاب او چهارچینو ولسوالیو کې د ښوونځیو زده‌کوونکو لپاره ټولټال ۳۳۳۷۸ د البندازول گولۍ ویشل شوې دي.

## ۲.۱.۷ لومړیتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

**۲.۱فعالیت**: د هغو زده‌کوونکو د درې کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې هیڅ یو زده کوونکي د درې کلنو نمرو د ترتیب او ژباړې په موخه مراجعه نه ده کړې.

۲.۲فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصدیق‌لیکونو اجراکول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت له لوري، په مرکز ترینکوټ کې د فطرت ښوونیز مرکز تصدیق پاڼې اجرأ شوي دي..

۲.۳ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د یتیمو، بې وزله ماشومانو، د شهیدانو ورثې او معلولینو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري ۱۵ تنه یتیم، بې وزله، د شهیدانو وارثین او معلول زده کوونکي خصوصي کورسونو ته معرفي شوي دي.

## ۲.۱.۸ لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپیاد(علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرول

**۲.۱فعالیت**: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د ارزگان ولایت پوهنې ریاسته ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د المپیاد( علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرولو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوي دي.

۲.۲فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د امریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د المپیاد( علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرولو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوي دي.

۲.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو له لوري، ټولو ښوونیزو مرکزونو ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د المپیاد( علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرولو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوي دي.

۲.۴ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د طالب العلمانو، حافظانو، زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د المپیاد( علمي سیالیو ) او د ساینس او ریاضیاتو پروژې عملي شوي دي.

۲.۵ فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې امریت په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ترینکوټ پوهنې آمریت له لوري، د ښار پوهنې آمریت په ټولو ښوونځیو کې د ساینس او ریاضیاتو علمي سیالۍ ترسره شوي دي.

۲. فعالیت: د ولایتونو د پوهنې د ریاستونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ترینکوټ پوهنې آمریت له لوري، د ښار پوهنې آمریت په ټولو ښوونځیو کې د ساینس او ریاضیاتو علمي سیالۍ ترسره شوي دي.

## ۲.۲ ښوونکی

### ۲.۲.۱ لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ بېولو لپاره د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو ښوونه

۲.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکزي ساینس ٦ تنو علمي غړو ته د پوهنې وزارت له لوري ۱۲ ورځنۍ ښوونیز ورکشاپ ورکړل شوی دی.

### ۲.۲.۲ لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

۲.۱ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکیتوب یوه کلنه برنامه دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت دبودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

۲.۲فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري، په مرکز ترینکوټ کې ۲۰ تنو د رشتې خلاف ښوونکو ته په مرکز کې ورکشاپ دایر شوی دی.

### ۲.۲.۳ لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

۲.۱فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري، ټولټال ۸۰ تنو ښوونکو ته د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوتر ښوونکو او لابرانتونو ته روزنیز ورکشاپ دایر شوی دی.

### ۲.۲.۴ لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لپاره اړین تدبیرونه نیول

د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې امریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د یاد ولایت پوهنې ریاست او همدارنگه د یاد ریاست له لوري د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د رشتې خلاف ښوونکو د پیژندنې په برخه کې لارښوونه ترسره شوې ده.

۲.۲فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندنه او معلومات راټولول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا غړو لخوا په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د عربي، پښتو، انګلیسي، ریاضي، فزیک،کیمیا او بیولوژي ۱۰۰سلنه درشتې خلاف ښوونکو معلومات راټول شوی دي.

### ۲.۲.۵ لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، استادانو او ښوونکو د توظیفولو لپاره د رشتې مطابق اړین تدبیرونه نیول

۲.۱فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیفولو د لاربنود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د یاد ولایت پوهنې ریاست او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیفولو د لارښوود د تطبیق په برخه کې لارښوونې ترسره شوې دي.

۲.۲فعالیت: د رشتې سره سم ښوونکو د توظیفولو د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د رشتې سره سم ښوونکو د توظیفولو د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

### ۲.۲.٦ لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه اړین تدبیرونه نیول

**۲.۱فعالیت:** د چمتو شوي لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې امریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه تیم نه دی راغلی ترڅو د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره لارښوونه وکړي.

**۲.۲فعالیت:** د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز له لوري لاربنود له یاد ولایت سره نه ده شریک شوی.

### ۲.۲.۷ لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا غړو ګمارنه بشپړه کول او هغوی ته لارښوونه کول چې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي.

۲.۱ فعالیت: د ولایتي کچې د مسلکي پراختیا غړو ګمارنه بشپړه کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د یاد ولایت په کچه ټولټال ۲۳ تنه علمي غړي استخدام شوي دي.

۲.۲فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، څارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت مننې په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ساینس مدیریت علمي غړو له لوري، په مرکز او ولسوالیو کې ۴۲ تنو علمي غړو ته روزنیز پروګرامونه دایر شوي دي.

۲.۳فعالیت: د ولایتي مرکزي برخې د علمي غړو لپاره د روزنې تریننګونه تدویرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري، د یاد ولایت پوهنې ریاست د ساینس مدیریت ۹ علمي غړو په جنوب زون کې روزنیز ورکشاپ ورکړل شوی دی.

### ۲.۲.۸ لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا غړو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونو ترسره کول

۲.۱فعالیت: دشوراګانو د تعلیمي ادارو د علمي غړو د ظرفیت لوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امه نه دی ترسره شوی.

### ۲.۲.۹ لومړیتوب: د جدیدالتقرر ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

۲.۱فعالیت: دجدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د دې ولایت په کچه ټولټال ۷٦ تنه جدید التقرر ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې پروګرامونه دایر شوي دي.

### ۲.۲.۱۰ لومړیتوب: د ښوونکو، زده کونکو او کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړولو چمتو کول

۲.۱فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د دې ولایت په کچه ټولټال ۲۷٦ تنه سرښوونکو او مدیرانو ته د ظرفیت لوړونې پروګرامونه دایر شوي دي.

۲.۲فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۲.۲.۱۱ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د ځایي خلکو همکاري

۲.۱فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت دبودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

۲.۲فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکي د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې په دې برخه کې د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس لپاره څوک نه دي حاضر شوي.

## ۲.۳ نصاب

### ۲.۳.۱ لومړیتوب: داړوندو مضامینوپه تدریس کې د عینې چاپیریالي موادو او تجربو کارولو ته وده ورکول.

۲.۱فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکز د علمي غړو لپاره د لارښوونو د پلي کولو لپاره لارښوونې

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت علمي غړو ته د مرکز له لوري لارښوونې ترسره شوې دي.

۲.۲فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې امریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري، د لارښوونو د پلي کولو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوې دي.

۲.۳فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د یاد ولایت په کچه د ښوونیزو مرکزونو له لارښوونې لازمې لارښوونې ترسره شوې دي.

### ۲.۳.۲ لومړیتوب: د نصاب سره سم د ساینس، ریاضي او کمپیوټر تجربوي لارښود کتابونو بیاکتنه او د هغوی ویش

۲.۱فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت اړوند مرکز ساینس مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ، دهراود، چورې، خاص ارزګان او ګیزاب ولسوالیو کې ۵۱۱ ریاضې په برخه کې کتابونه او کیټونه ویشل شوي دي.

### ۲.۳.۳ لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو(د ریاضي، بیولوژي کیټونو او چارټونو او ښوونیزو ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي د زمینې برابرول

۲.۱فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږد

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د خدماتو عمومي مدیریت له لوري مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو ته د خپل سهم په اساس مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه چې د همکارو مؤسساتو له لوري د ارزگان پوهنې ریاست ته ورکړل شوې وه وېشل شوې ده.

۲.۲فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له امریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته د خپل سهم په اساس مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه وېشل شوې ده.

۲.۳فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ساینس مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ خاص ارزگان ،گیزاب، دهراود او چورې ولسوالۍ کې د ریاضي او بیولوژي کیټونه او چارټونه وېشل شوي دي، چې په دې سره ٦٥۰۰ تنه زده کوونکي مستفید شوي دي.

### ۲.۳.۴ لومړیتوب: د صنفي اصولو دوري لپاره د کمبود درسي کتابونو په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن وېش

۲.۱فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او مرکزي او ولایتونو له ریاستونو سره د درسي کتابونو په کمښت کې همغږي او اړتیا سنجونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې تر دې دمه له مرکز سره د درسي کتابونو د کمښت په اړه همغږي نه ده شوې.

### ۲.۳.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د ښوونکي د لارښودکتاب وېش

۲.۱فعالیت: د پوهنې د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ارزگان ولایت ته د بدني روزنې د لارښود کتابونه نه دي رالیږل شوي.

### ۲.۳.٦ لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

۲.۱فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومی زده کړوآمریت اړوند دسوادزده کړو مدیریت له لوري اړتیا سنجونه ترسره شوې او د پوهنې وزارت څخه موده۱۴۰۵کال لپاره ۱۱۴۰۰جلده کتابونه وړاندیز کړي دي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

## 2.5 روزنیز چاپېریال

### ۲.۵.۱ لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونوکې د لابراتوار او کمپیوټرلبونو رامنځته کول او تجهیزول

۲.۱فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ساینس مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې ښورنگ متوسطه ښوونځی، دشت تالاني متوسطه ښوونځی، تالاني متوسطه ښوونځی اوسیدالخان عالي لیسې کې داړتیا ارزونه ترسره شوې ده او چورې ولسوالۍ اړوند ۱ باب ښوونځی لپاره عمومي لابراتوار جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.

۲.۲فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مرکزساینس مدیریت له لوري په چورې ولسوالۍ کې یو لابراتوار ایجاد شوی دی.

۲.۳فعالیت: په سامان الاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت د مرکز ساینس مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې دښورنګ متوسطه ښوونځې او تالانې متوسطه ښوونځیو کې لابراتوارونه تحهیز شوي دي.

## ۲.۵.۲ لومړیتوب: په ګدامونو او اداروکې د استفادې وړ سرچینو پېژندنه او د هغو متوازن وېش(درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه باب، فرش او خیمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري مواد)

۲.۱فعالیت: په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړوآمریت اړوند مرکزساینس مدیریت له لوري په مرکزترینکوټ اوچوري ولسوالیو کې ۳۳سلنه لابراتواري مواد ورکول شوي دي.

## ۲.۵.۳ لومړیتوب: د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۲.۱فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندنه.
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا غړو له لوري په مرکز ترینکوټ ۴۵، دهراود ۱۸، چوره ۱٦، خاص ارزګان ۱۹ او په ګیزاب ولسوالۍ کې ۹ ټولګي بې ښوونکو پیژندل شوي دي.

۲.۲فعالیت: د هغو ښوونیزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه داسې ښوونځې نه لرو چې زده کوونکي دې د نورم مطابق کم وي او ښوونکي دې زیات وي.

۲.۳فعالیت: د لارښوونو د پلي کولو لپاره د ولایتي پوهنې ریاستونو لارښوونې
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان پوهنې ریاست له لوري د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د لارښود د پلي کولو په موخه لازمې لارښوونې ترسره شوي دي.

۲.۴فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو له لوري د لارښود د پلي کولو په موخه ټولو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونې ترسره شوي دي.

2.5 فعالیت: د لانبود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، ټولو ښوونیزو مرکزونو د لارښود د پلي کولو په موخه لازمې لارښوونې ترلاسه کړې دي.

2.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لارښود پلي شوی دی.

۲.۷فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه لارښود نه دی رالیږل شوی.

## ۲.۵.۴ لومړیتوب: د ازادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۲.۱فعالیت: د هغو ښوونځیو چې په ازاده فضاکې د ټولګیو لرونکي دې او دهغو ټولګیو چې په ازاده فضاکې قرار لري پېژندنه
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري، په مرکز ترینکوټ کې ٦ بابه ټولګي، دهراود ولسوالۍ کې ۵۵ بابه ټولګي، او په چهارچینو ولسوالۍ ٥٦ بابه ټولګي په ازاده فضاء کې قرار لري پیژندل شوی دي.

۲.۲فعالیت: د لاربښوونو د پلي کولو لپاره د ولایتي پوهنې ریاستونو لارښوونې

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو ته د مرکز له لوري د لارښود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونې شوي دي.**

۲.۳فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د امریتونو لارښوونه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز ترینکوټ د پوهنې آمریت او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ۱۰۰ سلنه د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.**

۲.۴فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونیزو مرکزونو له لوري د لارښود د تطبیق په موخه لارښوونې ترسره شوي دي.**

۲.۵فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د یاد ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې دلارښود ۱۰۰سلنه پلي شوی دی.**

۲.٦ فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه (د خېمې او کرایي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت له لوري، د ښوونې لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه د خیمو او کرایي ودانیو د برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره سل سلنه همغږي ترسره شوې ده.**

### ۲.۵.۵ لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په خاصه توګه د لومړي ټولګي لپاره د بهترین ټولګي د ځانګړي کولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

۲.۱فعالیت: د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د صنفي اصولپه دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.**

۲.۲فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو ته د مرکز له لوري د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.**

۳.۲فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د امریتونو لارښوونه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومې زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مرکز ترینکوټ د پوهنې آمریت او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.**

۲.۴فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري ټولو ښوونیزو مرکزونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.**

۲.۵فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پای پورې، د دې ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لارښود پلي شوی دی.**

### ۲.۵.٦ لومړیتوب: له (دمې پرته) د ښوونیزکال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د شروع لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۲.۱فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ټول ولایت په کچه په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

۲.۲فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ټول ارزګان ولایت په کچه د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

۲.۳فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دعمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت ته د مرکز له لوري د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.۴فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امریتونو لارښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري د مرکز ترینکوټ د پوهنې آمریت او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.۵فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت ته د مرکز له لوري د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.٦فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د یاد ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لارښود د پلي کېدو په حال کې ده.

### ۲.۵.۷ لومړیتوب: حداکثر په دوو ټایمونوکې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره اړین تدبیرونه نیول

۲.۱فعالیت: دهغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري دیاد ولایت په کچه ټولټال ۱۰ بابه ښوونځي پيژندل شوي دي چې له دوو څخه زیات درسي وختونه لري.

۲.۲فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت ته د مرکز له لوري د لارښوود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.۳فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د امریتونو لارښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت له لوري د مرکز ترینکوټ د پوهنې آمریت او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ۱۰۰ سلنه د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې شوي دي.

۲.۴فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه.

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي او ثانوي مدیریت ته د مرکز له لوري د لارښوود د تطبیق په اړه ۱۰۰ سلنه لارښوونې شوي دي.

۲.۵فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لاربنود پلي کول.
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې لاربنود د پلي کیدو په حال کې ده.

## ۲.۵.۸ لومړیتوب: په ټول هیواد کې د تعلیمي فرصتونو برابرول او د ښوونځیو متوازن کول

۲.۱فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د نوي ښوونځي تاسیسول،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ۱۸ بابه نویو تأسیس شویو ښوونځیو فورمې د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوي دي، چې مقام له لوري تر اوسه کوم هدایت نه دی شوی.

۲.۲فعالیت: د لومړنیو په منځنیو او منځنیو په لېسه ښوونځیو لوړول،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د تشکیل د کمبود له امله نه دی ترسره شوی.

۲.۳فعالیت: د هغو کلیو او محلاتو تشخیصول چې ماشومان یې د واټن د ستونزې او نورو جغرافیایي ستونزو له امله له زده کړې بې برخې پاتې دي د هغوی لپاره د بدیلو خدماتو برابرول،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د تشکیل د کمبود له امله نه دی ترسره شوی.

۲.۴فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ کې د ۱ باب کورس نوم له فطرت څخه ارزگان فطرت ته بدلون موندلی دی.

۲.۵فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو( ښوونځیو او کورسونو) د نوم تأییدول؛
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د خصوصي ښوونځیو نوم بدلون په موخه چا مراجعه نه ده کړې.

۲.٦فعالیت: د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له راپور وروسته د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس کړنلارې او اساسي او ثانوي زده کړو د لایحې د شرایطو نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو د درسي شعبو مدغمول،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې  ولایت په کچه داسې درسي شعبې نه لرو چې مدغم شوي وي.

۲.۷فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول،
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه داسې دولتي ښوونځي نه لرو چې مدغم شوي وي.

۲.۸فعالیت: د یوې ولسوالۍ/ ښوونیزې حوزې په کچه د بست د اړتیا او کمښت په صورت کې له یوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول،
